# دغرورتہال

يوځاي كونكي-تاج محمد مبين

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب په اړه

نوم : دغرورتال

یوځاي کونکي:تاج محمد مبین

ژبه :پښتو

دترلاسه کیدو ځاي : **Ketabton.com**

یاد ناول دفیسبوک څخه په برخو برخو راټول شوي دي وروسته دتاج محمد مبین له لوري یوځاي اوتاسو ته وړاندي شوي دي.

ناول

رڼا د مور او پلار یوازینۍ نازدانه لور وه، چې له کوچینوالي یې هغه ډیره نازولې را لویه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او الله ج ډېر ښايست هم ورکړی و، ته به وايې چې په قلم دې جوړه کړې ده. خپل حسن او د کورنۍ نازونو لهٔ هغې يوه مغروره او بې پروا انجلۍ جوړه کړې وه.

دا چې پلار يې د زده کړو څخه محروم و، نو پهٔ رڼا يې ډېر تاکيد کولو چې زده کړې وکړي او ښه راتلونکی ولري، رڼا هم د پلار د همدې هيلې د پوره کولو پهٔ خاطر

خپل ټول فکر يوازې په زده کړه کې و، بې ځايه يې وخت نهٔ ضايع کول .

همدا کوښښونه يې د دې سبب شول چې د خپلې خوښې پوهنځي (طب) تهٔ بريالۍ شي، د هغې هيله د ځان څخه د يوې ښې ډاکټرې جوړېدل و، نو ځکه

يې د دې لپاره ډيرې هلې ځلې کولې.

شکيب هم چې د طب پوهنځي زده کړيال و، يوه ورځ پهٔ پوهنتون کې د يوې غونډې پر مهال د رڼا سره مخ شو، د هغې يو نظر د شکيب پهٔ زړهٔ د شاهين پهٔ څېر حمله وکړه او زړه يې پرې وبايلود

شکيب بهٔ هره ورځ د خپلې ناخبرې مينې د راتګ لپاره د پوهنتون مخکې دقيقې او ساعتونه شمېرل.

تر څو د رڼا د ښايسته مخ يو ديدن د خپل زخمي زړه لپاره ملهم کړي..

..ورځي تيريدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکیب نور بې صبره شو، غوښتل یې چې رنا له نږدې نه وګوري او خبرې ورسره وکړي.

یو ورځ رنا د خپلې یوې ملګرې سره د پوهنتون په میداني کې روانه وه.

شکیب یې تر څنګ تېرېده قصدا یې داسې په اوږه ووهله.

رنا هیڅ هم ونه ویل.

خو ملګرې یې چې ډیره زړوره وه په شکیب غږ کړ.

ړوند یې سترګې نه لرې؟

د شکیب ژبه ونښته، وارخطا شو خبرې ترې هیرې شوې، وبخښئ پام مې نه و، قصدي اراده مې نه وه.

_ اینده خیال کوه!

کنه بیا دې څنډل سرته نیسم..

او نور ترې روانې سوې

رنا ته یې وویل: ما ولید قصدا یې تاسره اوږه وجنګوله.

داسې ښکاري دربانډې مین دی.

رنا په کتاب ټینګه ووهله ، جلۍ خوله دې بنده که!

هر وخت چټې چټې لګیا یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سبا ورځ چې بيا دواړې پوهنتون ته راتلې شکېب د پوهنتون په دروازه کې ورته ولاړ و. او په رڼا کې يې خپلې دوه سترګې ښخې کړې وې.

د رڼا خو ورته پام نه و.

خو د ملګرې يې په شکيب سترګی ولګېدې، رڼا يې په اوږه ورو وټپوله.

ای تاته ويم ګوره هغه هلک بيا ولاړ دی.

رڼا: ولاړ به وي نو څه يې کوې؟

_ هسې ښکلی ځوان دی، شتمن هم معلوميږي دومره بد نه دی ستا يې په اړه څه نظر دی؟

رڼا: هغه له غوږ کلکه ونيوه ، چې تا بيا خپلې کړتې شروع کړې.

_ خو رښتيا ويمه، هغه درسره مينه لري.

نه ګورې هره ورځ لکه مجنون درته ولاړ وي بيچاره.

رڼا په کړس کړس وخندل.

هئ ته لکه د مينې سريالونو او کيسو ليونئ کړې يې.

مينه مينه نشته، دغه خبرې يواځې په کيسو او سريالونو کې وي، زه چې کله دغه خبرې اورم نو خندا مې ورته راځي.

نو ته هم مهرباني وکړه، له دې خيالي او عبث خبرو راووځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکې کې بیا زما ترمخ داسې خبرې ونکړې.

که ستا خوښ وي، خپله ورسره یارانه شروع که

شکیب له دې حالت نور بې صبره شو اراده یې وکړه، چې رڼا ته د خپل زړه خبره وکي، پوهه یې کړي چې څومره مینه ورسره لري، خو یوې خبرې به

به ډېر زیات ځوروه

چې ایا رڼا به یې ومني کنه؟............................

او څنګه د خپل زړه خبره تر هغې ورسوي، هیڅ لار په نظر نه ورتله.

او نه داسې بل څوک و، چې ورڅخه مرسته وغواړي.

اخېر یې ځان سره سلاح وکه، چې یو لیک به ورته ولیکم

لیک یې ولیکه خو بیا حیران و ، چې اوس یې تر رڼا څنګه ورسوي.

ځکه رڼا ډیره غوصه ناکه جلۍ وه

له ځانه سره لګیا شو کله چې راتله په ځمکه به یې ورته وغورځوم

بیا یې فکر وکړ چې زه څومره کمعقل یم هغه مغروره انجلۍ به کله له ځمکې لیک پورته کړي، خو ماسره بله لار هم نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې فکرونو کې د خیال نړۍ ته تللی و، چې په رڼا یې سترګې ولګیدې چې د پوهنتون په دروازه را ننوته.

ژر یې لیک په یو کتاب کې کېښود، او د هغې د راتګ په لاره یې وغورځو

خپله یو طرف ته پټ شو ، رڼا یې له لرې تعقیبوله

رڼا چې کله را نږدې سوه، په کتاب یې نظر ولګېد

رڼا د کتاب سره ډیره مینه درلوده، غوصه هم سوه چې دا له کوم بې پروا څخه دلته پریوتی

کتاب یې را واخېست ،او د خپل ټولګي په لور روانه شوه.

شکیب: له خوشحالۍ نه په جامو کې ناځایده، چې رڼا کتاب پورته کړ.

خو چې دا فکر به ورته ورغی چې هغه به یې ومني کنه؟

له شونډو به یې مسکا لاړه

څیره به یې خفګان ونیوه

د رڼا درسي ساعتونه پای ته ورسېدل، رخصتۍ وخت نږدې سو او د خپل کور په طرف روانه شوه.

کله چې کور ته ورسېده، له خپل بیک څخه یې کتابونه په الماری کې ایښودل، چې له هغه کتاب لیک وغورځید.

رڼا په لړزیدلو لاسونو لیک پورته کړ،

لیک یې پرانیستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کې لیکل شوي و......

السلام علیکم...

زما د خوبونو شهزادګۍ.

هغه هلک یم چې تیره ورځ مو میداني کې سره ټکر وکړ

د لیک لپاره ډیره زیاته بخښنه غواړم خو بل لار راسره نه وه.

ما چې پۀ لومړي ځل په هغه سمینار کې ولیدې زړه مې دربانده بایلود، لۀ هغې ورځې مې د خوب او خیال نړۍ یوازې تۀ یې.

پۀ فکر کې مې یوازې ستا څیره ګرځي، زړه مې یوازې ستا یاد کوي، او ژوند مې یوازې ستا په نوم تېرېږي بس.

زه پوهېږم چې تۀ بۀ فکر وکړې دا پۀ ما لار وهي، خو پۀ لوی خدای ج باور وکړه زه درسره ډېره مینه لرم، او غواړم تا د خپل ژوند شهزادګۍ جوړه کړم

پۀ ډېر سترې هیلې مې ستا لپاره دا لیک لیکلی او ژوند مې ستا په نوم کړی، هیله کوم چې نه ونه وایې او غوښتنه مې ومنه

درنښت

ستا شکیب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا له غصې سره واوښته، لیک یې وشکو او لرې یې وغورځو.

له ځان سره وبنګېده دا هسې عبث خبرې دي، دا هلک یو سبق غواړي داسې له ما نه کراریږي

په سبا رڼا پوهنتون ته لا نه ړه، ځکه میلمانه ورکره راتلل.

شکیب د پوهنتون مخ ته انتظار و، څو ځله یې وکتل خو رڼا پوهنتون ته رانغله

شکیب ډېر وارخطا شو چې دا ولې نه ده راغلې ځکه رڼا یوه ورځ هم پوهنتون نۀ قضا کول، هره ورځ به راتله.

شکیب تر ډېر ناوخته پۀ پوهنتون کې و، اخېر یې له ځانه سره وویل انسان دی کېدای شي نن به ورته کوم اړین کار پیدا شوی وي سباته به لخیره راشي.

په سبا ورځ دا وخته پوهنتون ته راغی د دروازې په مخ کې انتظار اېست چې کله بۀ رڼا راشي، هر موټر تۀ به یې پۀ ځېر ځېر کتل چې اوس به کوم یو نۀ رڼا را کوزه شي، تقریباً یو نیم ساعت انتظار وروسته د پوهنتون مخکې موټر ودرېد او رڼا ترې ښکته شوه.

شکیب ډېر خوشحاله سو، خو دا چې رڼا به څه عکس العمل وښايي

په شونډو به یې خوره مسکا ورکه شوه رڼا پوهنتون ته داخله شوه، خو نن یې ملګرې هم ورسره نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازي وه او دليک اړوند کوم عکس العمل يي ونښود دشکيب زړه صبر نه کوي او

اراده يي وکه نن چې هر څنګه کيږي مخامخ يې ورته وايم.

د رڼا مخ ته ووت

سلام اغلې!

وبخښئ اغلې يوه خبره مې درته کوله

رڼا په غوصه ورروکتل احمق انسانه!

تا څنګه جرات وکړ ماته ليک وليکې؟

او اوس زما لار دې هم نيولې،

تا زما په اړه څه فکر کړی؟ زه د درنې کورنۍ انجلۍ يم د خپل کور شمله يم.

لوچکه ،لوفره بی تربيه ته هيڅ شرم نه لرې ورک شه!

همداسی نور بدرد يې هم ورته وويل

شکيب سر ښکته کړ: په عاجزۍ وويل هيله کوم داسې مه وايئ

ما تر اوسه هيڅ انجلۍ ته نه دي کتلي، ته چې څه فکر کوې زه هغسي انسان نه يم.

زه دلته خپله د اقتصاد پوهنځي زده کړيال يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په رښتيا در سره مينه لرم زړه مې بې اختياره ستا پهٔ لېدو دربېږي، ستا نه بغير مې يوه شېبه هم زړه ارام نهٔ لري، هيله کوم ما درک کړئ!

رڼا: کټ کټ وخندل وې وويل فکر کوم د ادبياتو کتابونه ډېر ګورې او يا هم هنري زيبا اکټينګ دې بد نه و ولا

زه په دې عبث خبرو خپل وخت نه ضايع کوم،

اوسنۍ مينې دروغ او مطلبي دي.

شکيب يې خبر ونيوه، پوره يو کال وشو هره ورځ ستا د يو نظر ديدن لپاره دلته پوهنتون مخته ستا د راتلو انتظار کوم.

درس سره مې زړه نه لګي، کار ته مې زړه نه لګي، په هر ځای کې راته ستا څېره ښکارې، خوبونو او خيالونو کې مې هر وخت راځې

ايا دا مينه نه ده؟

رڼا: زه په دې کيسو نه پوهېږم او نه پرې باور لرم، اوس مهال راته يوازې خپلې زده کړې مهمې دي، د نور څه په اړه فکر نه کوم...

شکيب: ګوره ستا هيلې زما هيلې ، زه ستا د هيلو خنډ نه کېږم، بلکه ستا همت به شم. د نړۍ هره خوشحالي به ستا جولۍ ته واچوم

رڼا په غوصه شوه بس دی نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خپله خبره خلاصه کړه، نن خو مې په سمه پوه کړې داځل دې خیر خو که بیا دې د داسې کوم غلط حرکت هڅه وکه، د پوهنتون ادارې ته دې معرفي کوم

شکیب : ورته سلګو ونیو، چې خیر دی عذر درته کوم داسې مه کوه.

یو ځل خو پرې فکر وکړه

زما مینه رښتینې ده، زه بغیر له تا نیمګړی یم، له تا مې زړه نه صبرېږي.

رڼا یی نور خبرو ته غوږ ونه نیو، او چابکه له هغه ځای روانه شوه.

شکیب پسې غږ کړ مغرورې!

دا د زړه لوبه ده او ته د زړه پۀ لوبه نه پوهېږې، تا مینه نه ده کړې او نه هم د مینې قدرت پېژنې، د مینې زور او قوت به هغه وخت درمالوم شي چې مئینه شې، کنه تاسو د ښایست خاوندان خو یوازې د خپل ښایست په غرور ښه پوهېږئ تاسو مینه څه پېژنئ؟

د شکیب زړه مات شو، سترګې یې له اوښکو ډنډ شوې ډېر ودردید ځمکې ځای نه ورکو.

سرګردانه د خپل کور په لور روان شو، د رڼا چلند ډېر زیات خفه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکیب له ځانه سره وویل: خیر وخت به ورکړم ګوندې زړه یې نرم شي

په سبا ورځ بیا شکیب پوهنتون ته وختي راغی ، او د رڼا راتلو ته یې انتظار اېست

رڼا راغله له موټر ښکته سوه، په شکیب یې سترګې ولګیدې په غوصه یې وروکتل او د خپل پوهنځي په لور چابکه روانه شوه.

څو ورځې همداسې تیرې شوې، هره ورځ به شکیب په پوهنتون کې د رڼا د راتګ په انتظار و.

خو رڼا یې هیڅ په کیسه کې نه وه.

یو ورځ د پوهنتون د دروازې مخته شکیب ولاړ و، چې رڼا هم راغله..

په شکیب یې سترګې ولګیدې، چې مړاوې څیره ولاړ دی....

او د خواشینۍ نښې یې په مخ له ورایه ښکارېدي

د رڼا هغه بدرد را په زړه شول، چې تیره ورځ یې ورته ویلي ول.

غوښتل یې ورشي د هغو خبرو لپاره بخښنه وغواړي ، خو زړه یې ونه شو...

د خپل ټولګي په لور روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ له نیمې اوښتې وه، چې ناڅابه د پوهنتون په دروازه کې درنه چادونه وسوه.

ټول پوهنتون کې چغې او منډې سوې، یو ویره خوره سوه

زده کړیالانو او استادانو یو خوا بل خوا منډې وهلې، د وحشت تیارې خورې وي، څو تنو ترهګرو پهٔ پوهنتون برید وکړ

لومړی یې په دروازه کې یو موټر بم برید وکړ.

او بیا پوهنتون ته ننوتل، ترهګر داسې وحشي ول، چې.
څوک به یې لیده نو په مرمیو به یې سوری سوری کړ.

دې سره امنیتي ځواکونه هم سیمې ته ورسېدل او د ترهګرو سره په جګړه شول.

هر څوک په تېښته ول

شکیب سره د رڼا غم شو، خدای مه که په هغې څه وشي ، زه ژوندی نه شم پاتې کیدای.

له چاودنې سره سم یې د رڼا د پوهنځي په لور منډه کړه...

لاره کې یې په څو جسدونو سترګی ولګېدې، چی په وینو کې لت پت پراته ول.

لږ مخکې چې لاړ دوه انجونې بې حرکته پرتې وې.

د شکیب حالت نور هم خراب سو

رڼا د پوهنځي په څلورم پوړ کې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره زياته ويريدلي وه، زده کړيالانو منډې وهلې، او نارې وهل کيدې چې ژر وتښتئ ترهګر دېخوا را روان دي، رڼا هم په زينو کې منډه کړه

يو ترهګر د رڼا دي پوهنځي ته ځان رسولی و.

او په زده کړيالانو يې بې رحمه ډزې کولې.

رڼا چې کله اخيري پوړ ته ورسېده، نو ترهګر سره انګړ کې مخامخ سوه. د رڼا لاسونه او پښې سست شول مرګ يې په خپلو سترګو وليد

په دې کې شکيب هم ورسېد.

ترهګر د ټوپک شپيلۍ د رڼا په لور تاوه کړه، شکيب چيغه کړه چې نا زما په رڼا څه نه شي کېدلی.

په منډه يې رڼا ته ځان ورسو او له هغې يې غيږه تاوه کړه

دوه غبرګې ګولۍ د شکيب په ملا ولګيدې.

ورسره سم يوه مرمۍ د ترهګر په تنډه سريخ سوه،ترهګر اخ وکړ ځای پرځای پرېوت.

دا له لرې يو امنيتي نښان ويشتونکی و،

د شکيب په بدن وينې لکه د سېلاب په څېر روانې سوې، ټول بدن يې وينو کې لت پت شو.

رڼا په دواړو لاسونو غيږ پورې ټينګ نيولی و چيغې يې وهلې چې تا داسې ولې وکړل؟ زه د دې وړ نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د شکېب پښې سستې شوې، په ځمکه پریوت .

رنا یې ژر سر په غېږ کې کېښود.

غریو واخېسته

شکیب د رنا مخ په دواړو لاسونو کې ونیو، په تبسم یې وویل.

ای مغرورې جلۍ اوس خو دې ومنله کنه ، چې زه لوچک او لوفر نه یم، زما مینه رښتینې ده، او مینه عبس خبرې نه دي.

رنا سلګۍ وهلې، اوښکې یې د شکیب په مخ وڅڅیدې.

خو د شکیب سترګې نور پټې پټې کیدې.

رنا بیا چیغې کړې په تا هیڅ نه شي کېدلی، ته ما نه شی پرېښودی

تا زه غوښتم کنه وګوره زه ستا په وړاندې یم.

مینه درسره لرم، ډیره زیاته مینه درسره لرم

رنا یواځې ستا دا

بس اوس ته پاڅېږه پاڅېږه!

لکه لیونۍ له ځانه سره لګیا سوه.

خو د شکېب روح د اسمانو پۀ طرف خپلې وزرې رپولې، او بې روحه جسد یې د رنا مخ ته موسکی پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا يې اوس هم نه مني ، چې د هغې شکيب دې مړ شوی وي.

هره ورځ په پوهنتون کې د هغه د راتلو لارې څارې په هغه پسې ګرځي اخوا دېخوا يې لټوي، نارې کوي، کله لکه ليونۍ په چيغو چيغو ژاړي.

پای.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**